# پښتو ورځ
## ۴ غونډه کابل
## د غونډې لنډ خبر

د پښتوورځ یا پښتو ژبې نړیوالې ورځې او پر نورو ورته نومونو، پښتو او پښتنو ته د یوې ورځې پیل کولو او هر کال لمانځلو، خوځښتونه له څوو کلونو را پدیخوا پیل شوي دي.

دغه احساس په هغه پښتنو کې ډېر ګړندی لیدل کېږي چې له خپل ګران هېواد څخه بهر ژوند کوي، او غواړي چې په کال کې یو ځلې د خپلو نورو خواخوږ سره یو ځای راټول شي او د مسافري غم یې ورباندې هېر شي.

دغه اصل ته په کتو، پښتو تلویزیون دا اړینه وبلله چې د دغو بیوزلو مسافرو سره یوځای هر کال د پښتو په ورځ خپله کلیزه ولمانځي.

نن د غویي اتلسمه چې د می اتمې سره سمون خوري د پشتو تلویزیون په انګړ کې د ډېرو ښاغلي او اغلي غونډې ته رابلل شوي وه چې ۹ د غبرګولې یا ۲۹ د می ورځ د پښتو ورځې د خواخوږو لخوا ورپېژندل شي.

موږ ډېر خوښ یو د غونډې غړیو نښتې سره درونډ تړاو وښود، ژور احساسات یې څرګند کړل، ځینو د ورځې سره په تړاو ځینو په نتړاو بیا-بیا ژورې خبرې وکړې، چې د پښتو ورځې لپاره خورا یو غوره شګون دي.

پښتو تلویزیون زیری درکوي چې دا مهال پښتو تلویزیون ازمایښتي خپروني کوي او په دغه غونډه کې اعلان شوه چې خپلې ازمایښتي خپروني به پښتوپه ورځ چې ۹ د غبرګولې او ۲۹ د می سره سمون خوري پاي ته رسوي. او خپلې رسمي خپروني پیلوي او هر کال به پښتو ټلویزیون خپله کلیزه د پښتو ورځې سره لمانځي

د ویاړ ځای دي چې لاندې اداري دا مهال د پښتو ورځې په ویاړ ستر کارونه ترسره کوي:

پښتونخواکې د پښتو دورځي په ویاړ به افضل خان لالا د پښتنو قامي جرګه راغوړي.

پښتو تلویزیون په دغه ورځ خپله ازمیښتي خپرونې پای ته رسوي او خپله کلیزه د پښتو ورځې سره تړي.

په متحده عربي اماراتو کې د پښتو په ورځ نارینه او ښځینه ته ځانګړي میلمستاوې جوړې.

دغه لړي نورو هېوادو کې راوانه ده او پښتو تلویزیون به تاسې ته هر ورځ  په نورو هېوادو کې  د پښتو ورځې لمانځلو راپورونه خپروي.هیله ده چې نور پښتانه په دي لړي کې ونډه او خوند واخلي.

ننی غونډ کې لاندې نومیالیو کابل میشتو پښتنو ګډون کړي وو او ځینې راونرسیدل، بشپړ لست په www.pashtowraz.com کې کتلای شي.

د غونډې مشر میلمه ښاغلی ډاکټر فاروق اعظم، ښاغلي لېوال، ښاغلي منصور انصاري ، ښاغلي نثار صیب ، ، ښاغلي سمندر صیب .اغلي ملالي شینواري ، ښاغلي وحیدالله غازي خیل، ښاغلي ډاکټر رودوال ، ښاغلي شهزاده توحید مل، ښاغلي قدیر متـــــفي،